ورځپاڼه
هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | یکشنبه د ذوالقعدة الحرام ۲۷ مه ۱۴۴۶ ق کال، د غبرګولې ٤ مه ۱٤۰٤ ل کال، د مې ۲۵ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۵۲ مه، پرله پسې ګڼه ۷۱۵ مه، اتمه دوره

### ذبیح الله مجاهد:

# افغانان خپلو کورنیو موضوعاتو ته خپله رسېدنه کوي

د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد د ترک سازمان اعلامیې ته په غبرګون کې ویلي: د افغانستان اسلامي امارت له ترک دولتونو سره په اقتصادي او ډیپلوماتیکو برخو کې ښې اړیکې غواړي.

مولوي ذبیح الله مجاهد ویلي: افغانان خپلو کورنیو موضوعاتو ته خپله رسېدنه کوي، ځکه دا یوه کورنۍ اړتیا ده او د هېوادوالو وړاندیزونه به په پام کې نیول کېږي. نوموړي زیاته کړې: نور هېوادونه باید د افغانستان پر وړاندې خپل مکلفیتونه چې په هغوی پورې اړه لري په پام کې ونیسي. ذبیح الله مجاهد داسې مهال دغه څرګندونې کړې، چې د ترک دولتونو سازمان په یوه ګډه اعلامیه کې په افغانستان کې د ټولګډونه حکومت پر جوړېدو او د یوه سوله ییز افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې پر دوامداره تعامل ټینګار کړی.

### هند:

## له افغانستان سره بېلابېلو برخو کې تعامل ته دوام ورکوو


د هند د بهرنیو چارو وزارت وایي: هیواد یې په پام کې لري، چې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې خبرو او تعامل ته دوام ورکړي. د دغه وزارت ویاند زیاته کړې، چې د هند د بهرنیو چارو وزیر د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست سره د کابل او نوي ډیلي د دوه اړخیزو همکاریو پر پراختیا ټینګار کړی دی. د هند د بهرنیو چارو وزارت ویاند، رندهېر جیسوال ویلي: (( دواړو خواوو په بېلابېلو برخو کې د دوه اړخیزو همکاریو پراختیا او د پراختیایي مشارکت پیاوړتیا ته ژمنتیا ونښوده. د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان له خلکو سره مور خبرې وکړې او اوس هوډ لرو، چې دا تعامل د پراختیایي



پر دودیز مشارکت او د دغه مشارکت د پراختیایي اړتیاوو لپاره د ملاتړ پر دوام ټینګار وکړ. مشارکت او د خلکو ترمنځ د اړیکو په ګډون له بېلابېلو لارو مخته بوزو.)) ... ۲مخ

### مولوي عبدالسلام حنفي:

## اسلامي امارت هڅه کوي چې د ولسونو غوښتنو ته رسېدنه وکړي



د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي پرون د کندز د قلعه‌زال ولسوالۍ له یو شمېر مسئولینو او علماوو سره لیدنه وکړه. د لیدنې په پیل کې د یادې ولسوالۍ ولسوال مولوي عبدالقدیر حمزه د خپلو فعالیتونو او کړنو په اړه د ریاست الوزراء اداري مرستیال ته معلومات ورکړل.

نوموړي وویل: مجاهدین او سیمه ییز مسئولین د امنیت د ټینګښت او د اسلامي امارت د مشرانو د اوامرو او لارښوونو عملي کېدو ته چمتو دي او تل د خلکو د ستونزو د حل هڅې کوي. همدا راز په دې لیدنه کې د یادې ولسوالۍ علماوو د اسلامي امارت له رهبرۍ غوښتنه وکړه، چې د دې ولسوالۍ زېربناوو په ځانګړې ډول د روغتونونو جوړولو، د برښنا لېږد او د سړکونو رغونې ته پاملرنه وکړي. د ریاست الوزراء اداري مرستیال وویل: سیمه ییز مسئولین دي د خپلو دندو په ترسره کولو کې ... ۲مخ

## لوګر کې ټرافیکي پېښو ۱۶ تنو ته مرګ ژوبله اړولې

د لوګر د امنیې قوماندانۍ مسئولین وايي، چې د دغه ولایت په بېلابېلو سیمو کې د څلورو جلا ترافیکي پېښو له امله ۱۳ کسان ټپیان او ۳ نور مړه شوي دي. د لوګر د امنیې قومندانۍ ویاند مولوي احمدالله انس وايي چې د مرکز پُل علم اړوند، خضر التمور، جمعه کلا او دغه راز په محمداغې ولسوالۍ کې څلور ټرافیکي پېښې رامنځته شوي، چې په کې ۳ تنو ژوند له لاسه ورکړی او ۱۳ تنه نور ټپیان شوي دي. ښاغلي انس زیاته کړې، چې په دغو پېښو کې ۷ تنه سخت ټپیان شوي او تر جدي درملنې لاندې دي... ۲مخ

### مسئولین:

## د کاسا زر پروژې چارې به په ۲ کلونو کې بشپړې شي



برښنا شرکت وایي: د کاسا زر پروژې چارې، چې د ناڅرګندو دلایلو له امله افغانستان کې درېدلې وې، اوس د قراردادي شرکت له لوري د دغې پروژې د لومړۍ برخې چارې پیل شوي او ډېر ژر به یې د دویمې او درېیمې برخې چارې هم پیل شي. د دغه شرکت رئیس طلوع‌نیوز ته ویلي: د افغانستان برښنا شرکت د کاسا زر پروژې پلي کولو ته ژمن دی او چارې به یې په یو نیم یا دوو کلونو کې بشپړې شي. د افغانستان برښنا شرکت رئیس عبدالباري عمر وویل: (( د اسلامي امارت په راتګ سره د دې پروژې د بیا پیل لپاره ډېرې هلې ځلې شوي... ۲مخ

## د هرات د سترګو تخصصي روغتون کې د عملیاتو نوې خانګه فعاله شوه

د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي هرات ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې د سترګو ناروغیو د درملنې د تازه رغول شوي روغتون (نور د سترګو درملنې تخصصي روغتون) څخه لیدنه کړې. په دې لیدنه کې د هرات والي شیخ نور احمد اسلام جار او د عامې روغتیا وزارت پلاوي شتون درلود. د عامې روغتیا وزارت وایي: مولوي نور جلال جلالي په یاد روغتون کې یوه نوې عملیاتخونه او د روغتون ودانۍ له بیارغولو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارله. ښاغلي جلالي له یاد



روغتون څخه د لیدنې موخه د هرات اوسېدونکو ته د سترګو ناروغیو د درملنې برخه کې د تخصصي خدماتو ارزونه او د دې خدماتو لا پراختیا یاده کړې ده. د یادونې وړ ده، چې دغه عملیاتخونه ... ۲مخ

## کابل تاشکند او دوشنبه د مخابراتو برخه کې ۳ اړخیز تفاهمليک لاسليک کړی

د افغانستان، ازبیکستان او تاجکستان د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیرانو درې اړخیزه ناسته کې په مخابراتي برخه کې د ګډو همکاریو هوکړه لاسلیک کړې. د دې هوکړې له مخې به درېواړه هېوادونه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ برخه کې له یو بل سره ګډه همکاري ولري. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت خبر ورکړی، چې یاده درې اړخیزه کتنه کې د کابل، تاشکند او دوشنبه ترمنځ... ۲مخ

## سروی ۱۳۰۰ جریب زمین برای احداث شهرک مهاجرین در خوست

وزارت شهرسازی و مسکن از انجام سروی و توپوگرافی ۱۳۰۰ جریب زمین برای احداث شهرک مهاجرین در ولایت خوست خبر داده است . بربنیاد خبر این وزارت، حافظ انجنیر محمد یوسف لطیف، رئیس سروی و جی‌آی‌اس وزارت شهرسازی و مسکن گفته است که تیم تخنیکی در مرکز خوست این زمین را سروی و توپوگرافی کرده است. حافظ لطیف افزود که این سروی به منظور



احداث یک شهرک منظم و اساسی برای مهاجرین انجام شده است و زمینه جمع‌آوری معلومات تخنیکی لازم برای طرح پلان شهری، توسعه خدمات و تأسیسات زیربنایی را فراهم می کند.

طبق این خبر، قرار است نتایج این سروی با ریاست‌های مربوطه وزارت شهرسازی و مسکن شریک شود تا یک شهرک مناسب، منظم و مطابق نیاز مهاجرین ساخته شود.

گفتنیست که این پروژه از تعهدات کمیته اسکان دایمی به ریاست وزارت شهرسازی و مسکن در بخش همکاری انسانی و بازسازی است که هدف آن فراهم کردن امکانات زندگی برای مهاجرین نیازمند می‌باشد. باختر

## د اسلامي امارت پلاوي د مرکزي آسیا هېوادونو تخنیکي غونډه کې ګډون وکړ

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې د لوی رئیس مولوي مطیع الحق خالص په مشرۍ د افغانستان د اسلامي امارت پلاوي (( د مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ د اوبو سکتور او د اوبو د کموالي پر ضد مبارزې)) تخنیکي غونډه کې ګډون وکړ. دا ناسته د مرکزي اسیا هېوادونو د ځانګړو استازو، د چاپېریال ساتنې وزیرانو او د دې برخې د متخصصینو په شتون کې جوړه شوې. ناسته کې پر مهمو موضوعاتو لکه؛ د اوبو د سرچینو د مدیریت په برخه کې د مرکزي اسیا هېوادونو پر لاسته راوړنو او فعالیتونو، شته اغېزو، د طبیعي یخچالونو د څار پر سیستمونو، د معلوماتو




جوړښتونو، راتلونکو پلانونو، پر اوبو د اقلیمي بدلون د راټولولو پر پلاټفورمونو او د اوبو سکتور... ۲مخ

## پنجشېر کې د ۹ پروژو کار پیل شو



پنجشېر کې د ۹ پروژو کار پیل شو. په دغو پروژو کې، د ابشار ولسوالۍ د امنیې قوماندانۍ ودانۍ، د پنځو امنیتي پوستو ودانۍ، د حصه اول، رخې او درې ولسوالیو لپاره د جوماتونو جوړول، د مرکزي امنیې قوماندانۍ لپاره پنځه پوړیزه ودانۍ، د پنجشېر مستوفیت ودانۍ او د ولایت د لوړو زده کړو موسسې لپاره د لیلیې او جومات جوړول شامل دي.

د کورنیو چارو وزارت د تامیناتو مرستیال مولوي عبدالله مختار، په خپلو خبرو کې پر پنجشېر باندې د ځانګړې پاملرنې ټینګار وکړ او ویې ویل، چې د دې ولایت د مسئولینو د ودانیزو اړتیاوو غوښتنو ته به په جدي توګه رسېدنه وشي. همدارنګه د پنجشېر والي حافظ محمد آغا حکیم له مولوي عبدالله مختار څخه مننه وکړه او ویې ویل... ۲مخ

## د بغلان ۳۶ سلنه وګړي برښنا ته لاسرسی لري

د بغلان ولایت د برښنا ریاست مسئولین وايي چې اوس مهال په دغه ولایت کې ۳۶ سلنه وګړي له برښنا ګټه اخلي او که چېرې په دغه ولایت کې ۹۰ مېګاواټه برښنا برابره شي د دغه ولایت ټول اوسېدونکي به له برښنا څخه برخمن شي. د بغلان د



برښنا رئیس ملا سرداروليِ حمزه وایي، چې د دغه ولایت ۳۶ سلنه وګړي له اوبیزې او وارداتي برښنا څخه برخمن شوي، ۶۴ سلنه وګړي یې برښنا نه لري او په ګڼو برخو کې د ځایي خلکو، شرکتونو او فابریکو له لوري سولري برښنا په خواره واره ډول چمتو شوې، چې د تولیدي برښنا د میګاواټ معلومات یې ... ۲مخ




# د اسلامي امارت پر اصولو ولاړ مدیریت ستایو!

د اسلامي امارت له پیله په هېواد کې د نظم، ولسي خدمت او ښاري پرمختګ نوی خوځښت رامنځته شوی. بې له شکه هغه نظام، چې بنسټ یې پر اخلاص، شریعت، ملي ګټو او د خلکو د حقوقو پر ساتنه اېښودل شوی، نن یې عملي نښې نه یوازې د اسلامي اصولو ښکارندویي کوي، بلکې ولس ته د خدمت یوه روښانه بېلګه هم وړاندې کوي. دا ډېر وختونه شوي، چې ولسونه یوازې شعارونه اوري، خو اسلامي امارت د خدمت شعار عمل ته راوست. له کله، چې اوسني حاکم اسلامي نظام د خپل ولس خدمت ته اوږه ورکړې، په ځانګړي ډول د ښارونو د ښاري نظم، د سړکونو د رغونې، پراختیا او عامه خدمتونو برخو کې داسې بدلونونه راغلل، چې ولس یې په خپلو سترګو ګوري. یو څرګند مثال یې د کابل ښار په سړکونو، کوڅو او عمومي مسیرونو کې ترتیب، پراختیا، رغونه او نظم دی. د اسلامي امارت مشرتابه عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د ښاروالیو مسئولینو ته په یوه علمي سیمینار کې وویل: ((مسئولیت کوم اعزاز نه دی، بلکې مسئولیت امانت، د اوږو بار او د خلکو د حقوقو ذمه واري په غاړه اخیستل دي. اوس ستاسو په غاړه د خلکو مسئولیت دی او پر تاسو لازمه ده، چې په شرعي طریقې سره د خلکو د حقوقو ساتنه او د خلکو خدمت وکړئ.)) دغه خبره یوازې یوه وینا نه ده، بلکې د یوه سالم نظام د فکري بنسټ انعکاس دی. عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) خپلو مسئولینو ته لارښوونه کړې، چې د ښاروالیو پیسې د خلکو پیسې او حقوق دي او خلک یې تاسو ته د عامه خدمتونو لپاره درکوي، نو په هغو کارونو کې یې مصرفې کړئ، چې عام خلک پرې خوشحاله کېږي. دا یې هم وویل، چې دا جنګ ځپلی افغان ولس نور د شفقت مستحق دی، نه د زور او جبر. د ښاروالیو د مسئولینو ترمنځ د لا یووالي، همغږۍ او تجربو د تبادلې لپاره جوړ شوی دا یو ورځنی سیمینار، نه یوازې د یو اداري نوښت بېلګه وه، بلکې د مشرتابه د پوره اخلاص ننداره هم وه. اسلامي امارت د ښارونو تنظیف، د سړکونو پراخوالي او د بې نقشې سیمو د تر نظم لاندې راوستو لپاره عملي ګامونه اخیستي او دا هغه څه دي، چې خلک یې عملاًویني. د سړکونو پراختیا، د کوڅو رغونه، د ښاري نظم ټینګښت او د ښاري سرسبزۍ هڅې، دا ټولې د دې نظام د مسئولانه مشرتابه د غوره سیاست ښکارندویي کوي. د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) په لارښوونو کې یو بل مهم ټکي ته هم اشاره شوې وه: ((د بیت‌المال ساتنه وکړئ، غفلت مه کوئ، د شریعت له چوکاټ څخه مه وځئ.)) اسلامي امارت ثابته کړې، چې واک د ولس د ځورونې وسیله نه، بلکې د هغوی د خدمت ذمه واري ده. کله چې یو زعیم خپل مسئولین د رحم، زغم او مهربانۍ پر لور رهبري کوي، دا په خپله د نظام د انساني ارزښتونو یوه بېلګه ده. نن چې د هېواد په ښارونو کې نظم، پاکوالی، ښاري انسجام او د خلکو رضایت ورځ تر بلې زیاتېږي، دا د اسلامي امارت د عمل‌محوره سیاستونو، بااخلاصه مسئولینو او قوي رهبرۍ لاسته راوړنه ده. دا یو ځل بیا ثابتوي، چې اسلامي امارت د ولس د اعتماد وړ نظام دی او مشرتابه یې مسئولیت د اعزاز لپاره نه، بلکې د خلکو د خدمت لپاره خپل کړی دی. که د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) ویناوو ته د ځیرکتیا او معقولیت په ژور نظر وګورو د لمر په شان را معلومېږي، چې واقعي مسلمان قیادت، زعامت او حکومت د خپلو خلکو د خدمت په لاره کې په ډېر لوړ احساس، هوش او ستر اخلاص متې رانغښتي او دا د اسلامي نظام او حکومت هغه جوهر دی، چې نوره نړۍ به یې ونه لري. د افغانستان زعامت او د بېلابېلو ادارو مسئولینو د ټولې نړۍ د مشرانو، حاکمانو او ولسونو لپاره د الګو حیثیت موندلی. د دې لوړ حیثیت او وقار اثرات که څوک وغواړي یا یې ونه غواړي پر ټوله نړۍ مثبت اثرات پرېباسي. یوه ورځ به د دې شاهدان واوسو، چې میلیاردونه انسانان به د همدغه رقم مشرانو او د همدغه قسم کړنو جدي غوښتونکي واوسي. دا بیا بل هغه افتخار دی، چې په غیر مترقبه ډول افغانستان ته حاصلېږي. الهم احفظ وانصر اولیاءنا و ثبت اقدامهم في الخدمت الاسلام والمسلمین

# هغه امیر، چې پر زړونو یې پاچاهي وکړه!

**صفي الله رائد**

په نړۍ کې پر سرونو پاچاهي آسانه ده، خو پر زړونو پاچاهي بیا د هرچا کار نه دی.

څوک چې پر سرونو پاچاهي کوي؛ پر زړونو یې نشي کولای او چاچې پر زړونو پاچاهي کړې؛ هغوی بیا پر سرونو هم کړې.

هوکې شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله هغه امیر و، چې پر زړونو یې پاچاهي وکړه.

شهید امیرالمؤمنین په ژوند کې پر خپلو ماتحتو عسکرو دومره ګران و، چې تعبیر یې ناشونی دی، څومره بې کچې مینه، چې د عامو خلکو او ولسونو له منصور صاحب تقبله الله سره وه فکر نه کوم، چې د خپل عصر له بل هېڅ امیر سره دې چا کړې او یا درلودلې وي.

پر کشرانو ملګرو ډېر بې حده ګران و؛ د ملګرو پر شونډو مې د ژور خپګان نښې ښې په یاد دي، هغه وخت چې مکار دښمن یې د ټپي کېدو اوازې خپرې کړې.

په هغو ورځو کې مې ډېر داسې ملګري ولیدل، چې له ډېره خپګانه به یې له هېچا سره خبرې نه کولې.

کله چې د پلورل شویو رسنیو له خوا پرله پسې د منصور صاحب د ټپي کېدو او ځینو کې آن د شهید کېدو اوازې خپرې شوې؛ زما په شمول د ملګرو اندېښنې نورې هم پسې زیاتې شوې.

ښه مې په یاد دي چې ښاغلي مجاهد صاحب مازدیګر مهال رسنیو ته په یو پیغام کې ویلي و، چې د امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب غږ رارسېدلی، چې ډېر ژر به یې نشر کړي.

هغه سترې شپه زما ښه یادېږي، چې موږ ځینو ملګرو ترسهاره ورته ویښه تېره کړه؛ ترڅو د خپل ویاړلي امیر غږ واوري.

عجیب تصادف و، غږ مجاهد صاحب ته ماسپښین رسېدلی و او موږ ته یې مازدیګر نه، ماښام نه؛ بلکې آن د شپې په وروستیو شېبو کې نشر کړ او موږ هم د منصور صاحب مینې ترسهاره د ده غږ ته انتظار کړي او وېښ کېښېنولي وو. چې بیا په همدغې شپه سیداحسان الله الهام صاحب هم د منصور صاحب تقبله الله غږ ته په انتظار او تلوار کې یو شعر چې عنوان یې و: «غږ راوکړه!» خپور کړ او زموږ تنده یې هم خړوبه کړه، چې ډېرو ملګرو به وروسته د الهام صاحب د یاد شعر په خپرولو له منصور صاحب تقبله الله سره خپله مینه ښکاروله او یاد شعر به یې بار بار نشراوه.

غږ راوکړه

احسان الله الهام

باران دی توره شپه ده بل صحرا ده غږ راوکړه<br>
زړګیه! د حالاتو تقاضا ده غږ را وکړه<br>
قسم دی که مې هېڅ رقم تکلیف پر تا لورېږي<br>
پر غږ دې ګونډې وتښتي بلا ده غږ راوکړه<br>
نړدې ده چې نورکوڼ سم څه کړه صوتونه اورم<br>
و زړه ته ډاډ ښنونکي ستا وینا ده غږ راوکړه<br>
شکولي مې د وخت د ستم پرې، ځنځیرونه<br>
شړلي مې له زړه د چا پروا ده غږ راوکړه<br>
دلبره ستا پر غږ مې د عمرو تنده ماتېږي<br>
دلبره ستا په امرکې بریا ده غږ راوکړه<br>
پوهېږم له خوښۍ نه به مې زړه حرکت پرېږدي<br>
الهام یمه توکل مې پر الله دی غږ راوکړه

هو! منصور صاحب تقبله الله په دغه وار غږ راوکړ، داسې غږ، چې ډېر څه او د ولایت او کرامت نه ډکې ډېرې خبرې په کې نغښتې وې.

منصور صاحب تقبله الله، چې همدا یې وروستی پیغام هم شو، په خپلو خبرو کې وویل:

زه به بیا نه غږېږم؛ البته که بیا داسې کومې پېښې کېدې، تاسې به د اسلامي امارت ویاندویان خبروي،

دوی چې څه درته ویل، هغه منئ!

هو! منصور صاحب تقبله الله، چې څنګه موږ ته ویلي و چې بیا به داسې پېښو کې زه نه غږېږم! په رښتیاهم بیا ونه غږېد..!.

او ویې ویل: د اسلامي امارتویاند چې څه ویل هغه منئ!

موږ په سر سترګو ومنله، ځکه د اسلامي امارت ویاند ښاغلي مجاهد صاحب موږ ته د یو پیغام له لارې په یوې پېښه کې د امیرالمؤمنین، د ستر رهبر او د زړونو د رهبر ملااختر محمد منصور د شهادت خبر راکړ او تر څنګ یې د ده د ځایناستي نوی امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبةالله اخندزاده (حفظه الله) د بیعت خبره وکړه او موږ ټولو هېوادوالو د سر په سترګو ومنله؛ ځکه په اخري پیغام کې شهید سعید د زړونو رهبر ملااختر محمد منصور تقبله الله په خپل ژوند له موږ نه همدا غوښتي و، چې راتلونکي کې د اسلامي امارت ویاند څه درته ویل، هغه ومنئ!

دایې امر و، پر موږ واجب و او موږ هم په سر سترګو ومانه. دا د شهید امیرالمؤمنین منصور صاحب تقبله الله اخرینۍ له ولایت او کرامت څخه ډکې خبرې وې، چې د خپل ژوند په اخریو شپو ورځو کې یې خپل ملت ته وکړې او نور یې ستر اعزاز (د شهادت جام) نوش کړ او د ابد په لور وکوچېد.

چېرته مې کوم کتاب کې د آزادۍ په باب څو کرښې لوستې چې لیکلي یې و:

د آزادۍ لپاره مبارزه وکړه! که دې سر بایلود، تاریخ به دې د ماتې نه منونکي مبارز په نامه یاد کړي او که یې وګټې؛ دواړه به دې تر لاسه کړي وي.

هو! شهید منصور صاحب تقبله الله هم کټ مټ دخپل سر په قیمت مبارزه وکړه؛ سر یې نذرانه کړ، خو! تاریخ هم د یو نه منونکي مبارز په نامه یاد کړ. په داسې حال کې چې د لارویو سپېڅلې مبارزه یې هم د یوې سترې فتحې او آزادۍ په درشل کې ولاړه ده..!

هوکې، زموږ د زړونو امیره!<br>
د ننګونو دنګ مناره!<br>
اې دشهداوو دکاروان سرلاریه او سالاره!<br>
اې شمس الشهداء شهید امیر المؤمنینه!

په رښتیا هم چې د مظلومو ولسونو پر سرونه دې پاچاهي ونه کړه؛ بلکې ته پر زړونو پاچاه وې؛ زړونه دې وګټل او پر زړونو دې پاچاهي وکړه. ته یوازې د ګران هېواد نه، بلکې ته د مسلمه امت پر زړونو امیر او د زړونو امیر وې؛

هو! ته زړۀ وې او د هرې دردمنې او غمجنې سینې زړۀ..!

تا په ډېره کمه موده کې صلیب او د صلیب بچو ته لا مثاله درسونه ورکړل.

اې د زړونو رهبره!

تا په خپل سوځېدلي وجود هم وښودله چې مبارزه دې څومره سپېڅلې وه.

اې پر زړونو پاچاهي کوونکیه رهبره!

تا تر شا موږ افغانانو ته له ویاړ، ننګ او غیرته ډک زرین تاریخ پرېښود.

دا ستر اعزاز او ویاړلی شهادت دې مبارک شه!

خدای دې سوځېدل وجود وبښه!

**اسلامي امارت هڅه کوي چې ...**

غفلت نه کوي او د خلکو د ستونزو د حل لپاره دې لازم اقدامات ترسره کړي. مولوي عبدالسلام حنفي د کندز د سیمه ییزو مسئولینو د کړنو د ستایلو ترڅنګ د یادو علماوو د وړاندیزونو په اړه زیاته کړه: اسلامي امارت به خپلو امکاناتو ته په پام ورته رسېدنه وکړي.

**له افغانستان سره بېلابېلو ...**

نوموړي دغه راز کشمیر کې پر سېلانیانو د برید په تړاو د کابل د دریځ هرکلی وکړ او هغه یې د دواړو هېوادونو د ښې ارادې نښه وبلله. رندهیر جیسوال ویلي: ((زموږ د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست څخه مننه وکړه چې د پهلګام پېښه یې په کلکه غندلې ده. نوموړي همداراز د هغو هڅو د ردولو هرکلی وکړ، چې موخه یې د ناسمو او بې بنسټه راپورونو له لارې د هند او افغانستان ترمنځ د بې باورۍ رامنځته کول و.)) بله‌خوا، د هند د بهرنیو چارو وزارت ویاند په بیجینګ کې د چین، پاکستان او افغانستان د درې اړخیزې غونډې په تړاو ویلي، چې د دغو هېوادونو د تعامل څرنګوالي په هند پورې اړه نه لري.

د سیاسي چارو شنونکی، ګل محمد الدین محمدي وایي: ((پاکستان باید دا اندېښنه و نه لري، چې د افغانستان او هند نږدېوالی به د دې هېواد پر ضد وي. افغانستان له ټولو هېوادونو سره د ښو اړیکو پلوی دی او داسې اړیکې غواړي چې د هیڅ لوري په زیان نه وي.)) هند په تېرو درېوو کلونو کې هڅه کړې چې په اقتصادي او سیاسي برخو کې له افغانستان سره خپلې اړیکې پراخې کړي.

**کابل تاشکند او دوشنبه ...**

د ټکنالوجۍ پر ودې او پراختیا، سیستمونو، مخابراتو، پستي خدماتو، سیمه ییزو همکاریو او هوکړه شویو مواردو خبرې اترې شوې دي. د یادونې وړ ده، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیر نجیب الله حقاني د مشترک المنافع هېوادونو یا RCC غونډه کې د ګډون لپاره تاشکند ته تللی.

**د هرات د سترګو تخصصي ...**

د پخوا په نسبت لا مجهزه او په عصري ډول رغول شوې ده او د لا زیاتو ناروغانو د درملنې ظرفیت به ولري.

**لوګر کې ټرافیکي پېښو ...**

ده د یادو پېښو لامل، د موټرچلوونکو بې احتیاطي، ګړندۍ تګ او د ټرافیکي قوانینو نه مراعاتول ښودلي دي. د یادونې وړ ده، چې څو ورځې وړاندې هم، په لوګر کې د ټرافیکي پېښو له کبله درې تنه مړه او ۱۵ تنه نور ټپیان شوي وو.

**د کاسا زر پروژې چارې ...**

خو الحمدلله، د دې پروژې کار له تېرو شپږو میاشتو راهیسې په چټکۍ روان دي.))عبدالباري عمر زیاتوي، چې تاجیکستان ته په سفر کې یې د پاکستان، تاجیکستان او قرغیزستان د برښنا له مسئولینو سره د کاسا زر پروژې د ستونزو پر حل، د کار پر چټکتیا او د بشپړاوي پر لګښتونو خبرې کړې دي. د افغانستان برښنا شرکت رئیس وویل: ((د کاسا زر پروژې پاتې چارې به ډېر ژر پیل شي او روانې چارې به یې هم لا چټکې شي. هڅه دا ده، چې دا پروژه به یو نیم تر دوو کلونو کې بشپړه او ګټې اخیستنې ته به وسپارله شي.)) دا چې د سویلي اسیا هېوادونه د انرژۍ له سخت کمښت سره مخ دي، نو د مرکزي اسیا هېوادونه هڅه کوي چې د زېربنایي پروژو په ګډون انرژي د افغانستان له لارې دغې سیمې ته ولېږدوي. کاسا زر هم یوه له دغو مهمو پروژو څخه ده چې د قرغیزستان برښنا د تاجیکستان او افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي. د اقتصادي چارو ځینې شنونکي دا پروژه د افغانستان د برښنا د ستونزو په کمېدو او د کارموندنې په برخه کې ګټوره ګڼي. د اقتصادي چارو شنونکی، احمد فردوس بهګزین وایي: ((هر څومره چې دغه پروژه د افغانستان په خاوره کې پلې کېږي، موږ کولی شو په هماغې اندازه له ټرانزیټي عوایدو او کاري فرصتونو یې ګټه واخلو، ځکه چې کاري ځواک ته اړتیا لري. که دا پروژې په ښه ډول بشپړې کړو، افغانستان کولی شي نورې زیاتې ګټې هم ترلاسه کړي.)) د کاسا زر پروژې په پلي کولو سره، قرغیزستان زر میګاواټه برښنا د تاجیکستان او افغانستان له لارې پاکستان ته لېږدوي او د دې پروژې له لارې به افغانستان د برښنا په ترلاسه کولو سربېره، له ۴۵ تر ۵۰ میلیونه ډالره د ټرانزیټ حق هم ترلاسه کړي.

**د اسلامي امارت پلاوي ...**

د معلوماتي سیستمونو په اړه خبرې وشوې. د ټکنالوژۍ لېږد، د سرحدي اوبو مدیریت، د سیمه‌ییزو همکاریو پیاوړتیا او د اوبو د سرچینو ګټور او تلپاتې مدیریت هم هغه موضوعات وو، چې د دې تخنیکي ناستې په اجنډا کې ځای ورکړ شوي و. په دې ناسته کې د مرکزي اسیا هېوادونو استازو خپل فعالیتونه، پلانونه او د راتلونکي لپاره ستراتېژۍ وړاندې کړې. د ناستې په پای کې، ګډونوالو د اوبو د سرچینو پر ښه مدیریت، د اقلیم د بدلون د اغېزو پر کمولو، د ګډو ستراتیژیو او پالیسیو پر پراختیا، د ګډو پروګرامونو پر پلي کېدو، د څارنې د سیستمونو پر پیاوړتیا، پر علمي څېړنو او د اوبو د وېش لپاره د منظمو میکانیزمونو پر جوړولو ټینګار وکړ.

**د بغلان ۳۶سلنه وګړي ...**

د بغلان د برښنا ریاست سره نشته. حمزه زیاته کړه چې په دې ولایت کې د وارداتي برښنا لپاره څلور سب ستېشنونه جوړ شوي چې په پلخمري، مرکزي بغلان، ډنډغوري او خنجان ولسوالیو کې موقعیت لري. د نوموړي په وینا، د پلخمري ۲۲۰ کیلوولټه سب ستېشن چې په کرکر سیمه کې موقعیت لري د ۱۶ میګاواټه برښنا د تولید وړتیا لري، د مرکزي بغلان په چمقلا سیمه کې ۲۲۰کیلوولټه سب ستېشن د ۱۶ میګاواټه برښنا ظرفیت، د ډنډغوري د خواجه الوان د ۵۰۰ ولټه برښنا سب ستېشن د ۴۰۰ میګاواټه برښنا او د خنجان ولسوالۍ د ګزه ګیل د ۲۲۰ کیلوولټه برښنا سب ستېشن هم د ۱۶ میګاواټه برښنا د تولید وړتیا لري. دغه ریاست وایي، چې د خلکو له غوښتنو سره سم یې هڅې دا دي څو د دې ولایت ټولو سیمو ته د خپلو امکاناتو په پام کې نیولو سره برښنا ورسوي.

**پنجشېر کې د ۹ پروژو ...**

چې د محلي اداري له لوري پراخ اصلاحات پلي شوي دي. نوموړي زیاته کړې: د ولسوالیو اداري د لمریزې برښنا، ټکنالوژۍ او اړینو تجهیزاتو په وسیله سمبالې شوې دي او د نوو ودانیزو پروژو په پلي کولو سره به ډېرې شته ستونزې حل شي.

**ثور میاشت؛ هېواد کې ...**

کړنو د مخنیوي په موخه یې ۴۱ کوډګر نیولي او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې سپارلي دي. په همدې حال کې، د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت محتسبینو د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د نرخونو د کنټرول، سود، احتکار، غش او خیانت د مخنیوي او د یوه اسلامي اقتصادي چاپېریال د رامنځته کولو په موخه له هټیوالو او سوداګرو سره ۸۹ اصلاحي ناستې ترسره کړې دي. هېره دې نه وي چې د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت محتسبینو په یاده موده کې د هېواد په ټولو ولایتونو کې له امارتي مسئولینو، دیني عالمانو، قومي مخورو او ځوانانو سره د عامه ذهنیت د سمون، همغږۍ، د معروفاتو د اقامې او د منکراتو د مخنیوي په موخه ۷۹۷ بېلابېلې اصلاحي ناستې ترسره کړې دي. باختر

**د لوړو زده کړو وزیر بلخ ...**

ستونزې او وړاندیزونه واورېدل. شیخ ندا محمد ندیم استادانو ته په خطاب کې وویل: له دې وروسته به د هېواد په سکتوري وزارتونو کې د استادانو له ظرفیتونو او تجربو ګټه اخیستل کېږي. نوموړي دغه راز محصلین د مسلکي، ژمنو او دیندارو علمي کادرونو په توګه ټولنې ته د خدمت کولو لپاره هڅولي دي.

**پاکستان دې د افغان کډوالو ...**

د اسیا پاسیفیک د کډوالو د حقونو شبکې ویلي: ((د اسیا پاسیفیک د کډوالو د حقونو شبکه د پاکستان له حکومته په کلکه غوښتنه کوي، چې په ډله ییز ډول د افغان وګړو شړل سملاسي ودروي او د نړیوالو حقوقي او بشري ژمنو پر بنسټ د ټولو کډوالو د خوندیتوب او درناوي ډاډ ورکړي.)) د کډوالو د حقونو یادې شبکې په خپله اعلامیه کې زیاته کړې: پاکستان باید په خپله خوښه د کډوالو ستنولو اصول مراعات او د افغان کډوالو پر ضد له بشري حقونو سرغړونو ته د پای ټکی کېږدي. د اسیا پاسیفیک د کډوالو د حقونو شبکې په دې اړه ویلي: ((له پاکستانه غوښتنه کوو چې بې له ځنډه عملي او څرګند ګامونه واخلي. سره له دې چې د کډوالو د ستنولو اصول باید مراعات کړي، ترې غواړو چې د پناه غوښتنې عادلانه، مؤثر او اسانه بهیر بېرته فعال کړي او د افغان کډوالو پر ضد د بې بنسټه بندیزونو او له بشري حقونو سرغړونې پای ته ورسوي.)) که څه هم د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په دې اړه څه نه وايي، خو له وړاندې یې له پاکستانه غوښتي چې د افغان کډوالو د ستنولو پروسه اصولي کړي. د سیاسي چارو شنونکي بیا د کډوالو په اړه د اسیا پاسیفیک د کډوالو د حقونو شبکې د دریځ ننګه کوي او ټینګار کوي چې پاکستان دې نړیوالو قوانینو ته د ژمنتیا په ثابتولو سره، د افغان کډوالو پر وړاندې نرمښت اختیار او د هغوی حقونه دې تامین کړي. د سیاسي چارو شنونکی ابوالحسن صالحي وایي: «د اسیا پاسیفیک د کډوالو د حقونو شبکې اقدام د ستایلو وړ دی او باید د همدې شبکې د حقوقي چوکاټ له مخې پر پاکستان فشار راوړل شي، ترڅو د دې هېواد له خوا د کډوالو په اړه نړیوال قوانین محترم وګڼل شي او د پاکستان له خوا د کډوالو حقونه رعایت شي او دغه راز د کډوالو له جبري اخراجولو لاس واخلي. باید افغانستان کې د راستنېدونکو کډوالو لپاره د بیا مېشتېدلو زمینه برابره شي او دغه راز نورې نړیوالې اداري او د بشري حقونو ملاتړي بنسټونه هم پر پاکستان فشارونه زیات کړي، ترڅو دغه روانه لړۍ ودروي.» دا په داسې حال کې ده چې پاکستان د یوه بې مخینې اقدام له مخې، د ۲۰۲۳ زېږدیز کال په اوږدو کې له دې هېواده د افغان کډوالو د جبري ستنولو لړۍ پیل کړه او تر اوسه پورې یې له یو میلیونو زیات کډوال افغانستان ته ستانه کړي دي. د پاکستان دغه ګام د افغانستان او نړیوالو له کلکو نیوکو سره مخ دی.

**نمایشگاه ۲ روزه هنری ...**

در تمام بخش ها با مردم بوده و خصوصاً معینیت هنر و فرهنگ وزارت اطلاعات و فرهنگ تمام هرمندان و فرهنگیان را حمایت می نماید.

محمد رفیع تیموری

**د سالنګ لویې لارې ...**

شمال لوري ته په اصلي مسیر د تګ اجازه ورکول کېږي.

د ټولګټو چارو وزارت له هېوادوالو څخه غوښتنه کړې، چې د بیارغونې د کارونو تر بشپړېدو پورې دې له حوصلې کار واخلي، تر څو چارې د کیفیت له مخې په ښه ډول ترسره شي. د یادونې وړ ده، چې د سالنګونو لویې لارې د یو شمېر برخو د کانکریټ اچونې کارونه د تېر مالي کال په ترڅ کې بشپړ شوي دي.

**روسیې او اوکراین نږدې ...**

تبادله وي.)) ولسمشر زیلینسکي له ټولو هغو کسانو مننه کړې چې د بندیانو د تبادلې لپاره یې کار کړی او ژمنه یې وکړه چې ډیپلوماټیکو هڅو ته به دوام ورکړي، ترڅو لاډېرو تبادلو ته لاره هواره شي. ورته وخت کې د روسیې د دفاع وزارت هم ویلي چې له اوکراین څخه یې ورته شمېر بندیان ازاد شوي دي.د راپورونو پر بنسټ، تمه کېږي چې کیف او مسکو به خپلو کې ۲۰۰۰ بندیان تبادله کړي.د یادونې وړ ده چې روسي او اوکرایني چارواکو تېره اوونۍ د ترکیې په استانبول کې د بندیانو د تبادلې هوکړه کړې وه.

**فراه کې د کرېکټ ...**

عزیزي څرګنده کړه، چې له دې وړاندې په بالابلوک ولسوالۍ کې ورته هېڅ ډول لوبغالی شتون نه درلود او د کرېکټ لوبغاړي له ګڼو ستونزو سره مخ وو. د یو بل خبر له مخې؛ د فراه د مرکز اړوند د باغېل په نوروزي سیمه کې د یوه سوداګر په مالي ملاتړ د ۳ میلیونو افغانیو په لګښت د خراسان فوټسال لوبغالي کې مصنوعي چمن لګول شوی دی.

### د داوطلبی خبراوی

د داوطلبی ګڼـه:خ.س.ج.ا.ش/ ۱۴۰۴/ پ.م.د/توکي-۱۴

د خوندي سـندونو د چاپ امـارتي شرکت، ټولـو لیوالو داوطلبانو ته په خورا درنښـت بلنه ورکوي تر څو د دې شرکت د اړتیا وړ د معلوماتي ټکنالوژۍ توکي او وسایلو پروژې تدارکاتي پروســه کې ګډون وکړي، خپل سر ترلي/ بنـد آفرونه د شرطپاڼــې د شرایطو، د تدارکاتو قانـون او طرزالعمـل سره برابر د ۱۴۰۴ کال دجواز میاشـتې تر (۲۴ مې) نېټې، د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پورې، د کابل ښاروالۍ د اومې ناحیې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلـک پخوانۍ فابریکــې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، دوهم پوړ کې د تدارکاتو آمریت ته تسـلیم کړي. هېره دې نه وي چې نا وخته او د برېښنالیک له لارې رسېدلي آفرونه نه منل کېږي.

همدارنګـه د یادونې وړ ده چــې داوطلبان کولای شي؛ شرطپاڼه د فلش له لارې د تدارکاتو آمریت څخه او یا هـم (Hadi.ahmadzai@ ahsp.af او کاپـي: mk.marwan@ahsp.af , waheed.ahmadzai@ahsp.af) برېښنالیکونو ته د برېښنالیک استولو له لارې تر لاسه کړي. داوطلبان مکلف دي؛ د آفر تضمین د شرطپاڼې د شرایطـو سره سـم، د (۵۰،۰۰۰) افغانیو په ارزښـت، په بانکي او یا هم نقدي بڼه د خپل آفر سره یوځای وړاندې کړي. د یادې پروژې د آفر پرانسـتې غونـډه د ۱۴۰۴ کال دجواز میاشـتې په(۲۴ مه) نېټه، د سـهار په ۱۰:۰۰ بجو د کابل ښـاروالۍ د اوومې ناحیې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابریکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امـارتي شرکت، د غونډو په تـالار کې نیول کېږي.

### اعلان کرایه دهی

{ شرکت امارتی مسـافربری شهری ملی بس درنظـر دارد (۹۰) بـاب دکاکیـن خویش را واقـع زنده بانان ناحیه شـانزدهم شـاروالی کابل از طریـق داوطلبی طور جداګانه برای مدت سه سـال به کرایه بدهد. افراد حکمی و حقیقی واجد شرایط که خواهان به کرایه ګیری باشند درخواستی های شانرا ضم کاپی جواز معتبر و تذکره تابعیـت از تاریخ نشر اعلان الی مدت (۲۱) یوم تقویمی به مدیریت عمومی قرارداد جایدادهـای شرکت امارتی مسـافربری ملی بس واقع زنده بانان تسـلیم نموده شرطنامه ملاحظه میتوانند تضمین نقداً اخذ میګردد.}۱۲۲۴

### اطلاعیه دعوت به داوطلبی

جمعیت هلال احمـر افغانی در رابطه اعمار یک باب تالار جلسـات، یـک با چوکیدار خانـه، نصب کتـاره بالای دیـوار احاطه و مرتفع سـازی دیوار احاطوی نمایندګی هلال احمر افغانی ولایت نورسـتان مطابق نقشه و مشخصات ترتیب شـده از جانب ریاست املاک و تعمیرات می باشــد به داوطلبی می سپارد.

از شرکت های ( سـاختمانی ) که در قسمت فعالیت داشـته باشـند ، درخواسـت های خویـش را به آمریت قـرار داد ها جمعیت هلال افغانی واقع افشار سیلو بسپارند ، خود شـان بعد از نـشر اعلان الی مـدت۱۴ یوم بـه مجلـس داوطلبی مراجعه نمـوده و پول حق الاشـتراک مبلغ ۱۰۰۰ افغانی نقدا اخذ میګردد.۱۳۴۰

### اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اسـامی محترم قیس فرزنـد همایون ولدیت محمد اعظم دارنده جواز نمبر (۴۸۲۳) مورخ ۱۴۰۱/۱۱/۲۲ متصـدی رهنمای معاملات ( ګلسـتان ) واقع (سرک دهـم تایمنی ) ناحیه ( ۱۰) شـاروالی کابل خواهان فسـخ جواز خویش ګردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر ګاه ادارات دولتی و اشـخاص انفرادی بـالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاسـت عمومی انسـجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند.۱۳۳۶

### اطلاعیه مفقودی

اسـامی بومان علـی نظری فرزنـد محراب باشـنده فعلی ولایت کابل ناحیه سـیزدهم، ذریعـه درخواسـتی مـورخ ۱۴۴۶/۱۰/۲۹ خویـش از ایـن اداره خواهان فسـخ جواز شـماره ۰۲۵ بـه اسـم خدمات پولـی وطن ګردیـده اسـت . موصـوف اصـل جـواز فعالیـت و آویـز های پـول تضمین خویش را مفقود نموده اسـت. بناء از اعتبار سـاقط می باشد.۱۳۳۹

### اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم نظـام الدین کاکړ فرزنـد لعلو خان ولدیت سـید دارنـده تذکره نمـبر ( ۴۷۷۷۲-۱۲۰۰- ۱۳۹۹) مسـکونه اصلـی ولایـت جوزجان مالک امتیاز دواخانه خوشبو واقع ناحیـه اول ولایت کابل عنوانی معینیت غذا و ادویــه وزارت صحت عامه عــارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است اشـخاص موسسـات ودوایر دولتی در مورد آګاهی حاصل نمـوده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۱۳۵۴

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عـراده موتر پلیـت ۳۹۴۱۵-۲ ش کابل نوع تیوتا کـرولا خویش را بعـد از طی مراحل قانونـی خرید و فروش بـالای حکمت الله فرزند احمد جان بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشـته باشند الی مدت سه یوم بــه مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۳۳۴

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عـراده موتر پلیـت ۹۶۳۸۴-۲ ش کابل نوع تیوتا کـرولا جاپانی خویـش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای دوسـت محمد فرزنـد دین محمد بفروش رسـانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشـته باشند الی مدت سه یوم بــه مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۳۴۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نثار احمد دشتی فرزند محمد اسـلام مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۶۵

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم امین قمبری فرزند ګلستان مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۶۴

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم موسی خان فرزند محمـد اکبر مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۶۳

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید علی رضا سادات فرزند سید حسین مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۶۲

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم سامانه اصغر پور بنت نعمت الله مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۲۴

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله مزیدی فرزند محمد یونس مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۳

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام نبی سـتاری فرزند علاوالدین مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۲

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد صابـر حنیفی فرزنـد محمد ظاهـر مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۱

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی جان نبی زاده فرزند علی حسین مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۰

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم سید محمد هاشـمی فرزند سـید یعقوب مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۰

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم عبدالله رضایی فرزنـد تاج میر مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۶۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد افضل امیری فرزند عبدالستار مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۶۸

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید مهدی هاشمی فرزند سید همایون مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۶۷

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم مهدی احمدی فرزند غلام سـعید مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۶۶

### اطلاعیه مفقودی

یــک جلـد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم عبدالکریم محمدی فرزند محمد رفیق مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم اجمل افشـار فرزند محمد سـالم مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد قدیر سروری فرزند سید محمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۸

# افغان اعلانات

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد ابراهیـم صدیقی فرزند محمد صدیق مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۷

### اطلاعیه مفقودی

یــک جلـد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم عبدالحکیم سعیدی فرزند فیض محمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۶

### اطلاعیه مفقودی

یــک جلـد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم عبدالحکیم سعیدی فرزند فیض محمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۶

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم جان محمد حبیبی فرزند خال محمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۵

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم نجیبه اوریاخیل فرزند بـادام ګل مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۴۷

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم سروش محمد ناصر فرزند نـاصر مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۷۴

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نوح امین فرزند شیر الله مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۱

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم سبحان پرویـز فرزند غلام جیلانی مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد هاشم مرادی فرزند فیض محمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۳

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید بهرام عظیمی فرزند سـید جاوید مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۱

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم بی بی مریم بنت سید جاوید مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۲

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نعمت الله یاوری فرزند جمعه خان مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۰

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم علی ګوهـر عظیمی فرزنـد محمد علـی مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۹۸

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عاشق الله نور فرزند مرجان مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۷

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم شیرین ګل بنت جمعه خان مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۰

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم عنایت الله عظیمی فرزند علی احمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۳

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم احمد ولی صافـی فرزند سردار مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۲

### اطلاعیه مفقودی

یــک جلـد پاسـپورت سـیاحتی به اسـم عبدالکریم منظری فرزند عبدالرزاق مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۱

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالبصیر قاسـمی فرزند عبدالعلی مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۰

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم غلام سعید مرادی فرزند عبدالرسول مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روح الله زمانی فرزند علم ګل مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۸

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم حاجی عبدالکریم خان داروزی فرزند حاجی دارو خان مفقـود ګردیـده از اعتبار سـاقط می باشد.۹۵۱۷

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم سید عبدالله سـخی زاده فرزند سـید داود مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم محمد منصور رضایی فرزند محمد اسماعیل مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۵

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد جان حکیمی فرزند عبدالاحد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۴

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم راضیه تورخیل بنت شـیر حسـن مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد نسیم حیدری فرزند علی جان مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۶

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد کاظم رضایی فرزند سید احمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۷

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم قربان حسنی فرزند محمد عیسی مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم نذیر احمد صافی فرزند حاجی عبدالباسط مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۳

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم احمد صمیـم احمدی فرزنـد جان محمـد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۵

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم پردیس کتـوازی فرزند میرویس مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۸۴

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم تیمور رضایی فرزند داود شـاه مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۲

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سمیع الله نیـازی فرزند محمد رقیب مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۳۱

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم بریره نیـازی بنت محمد رقیب مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۳۲

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شمیسا عطایی بنـت عبدالصمد مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۳۰

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم هارون فرزنـد عبدالعلـی مفقود ګردیـده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم غلام صدیق رسولی فرزند مجنون مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۸

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم احمد جـان فرزند آقا جان مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۷

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مصطفی حیدری فرزند محمد حسین مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۶

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذبیح الله فرزند محمدعظیم مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۲۵

***

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم ضیاو الدین نورزاد فرزند غلام سخی مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۶

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم بریالی کوهسـتانی فرزنـد محمد همایـون مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۵

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم مرتضی خادم فرزند محمد یوسـف مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۴

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم کوچی حسـنی فرزند علی محمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۳

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم سیف الله شیرزاد فرزند عبدالغنی مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۲

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بی بی نور بنت عبدالغنی مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۰

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم فیصل خیر اندیش فرزند ذبیح الله مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۰۱

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ګل محمد محمدی فرزند محمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم محمد علی نظری فرزند خدا نظر مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۸

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم صبغت الله فرزنـد عزیز محمد مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۷

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم شیرآقا سامانی فرزند عبدالله مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۶

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالجلیل امید فرزند محمد موسـی مفقـود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۵

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد تمیم فرزند محمد طاهر مفقـود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۴

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید الهام سـادات فرزند سـید برات مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۳

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم حامد فقیرزاده فرزند آقا محمـد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۲

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ګل احمد عزیزی فرزند فضـل الدین مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۱

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم متین واحدی فرزند محمد صادق مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۱۶

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم امر الله سـهاک فرزند تواب خان مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۹۰

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم غیاث الدین ریسی فرزند برق الدین مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۸

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید مهدی حسینی فرزند سـید محمد مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۹

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم صوفی جان حبیبی فرزند سید حبیب مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۷

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ګل محمد رجبـی فرزند تاج محمد مفقــود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۶

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسین داد پناهی فرزند اسـحق مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۵

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم زهرا فردوسـی فرزند شیرحسین مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۴

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سـیاحتی به اسم نوید ناصری فرزنـد عبدالرحمن مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۳

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسـپورت سیاحتی به اسم مرتضی محمدی فرزند محمد ظاهر مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۲

### اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سـیاحتی به اسم جاوید حیدری فرزند نـادر مفقود ګردیده از اعتبار ساقط می باشد.۹۴۸۱

## د داوطلبیو اعلان

د کابل ولایت د کانونو ریاســت په پام کي لري چې د قرار داد د عقد په موخه سـاختمانی کاني موادو لاندې ساحې د دوه کالو لپاره په قرار داد ورکړي.

| شماره | ولایت | ولسوالي | د ساحي نوم | د موادو ډول | مساحت دساحي |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ناحیه ۱۳ | کوچي آباد | جغل خاکدار | ۲۰۳۵,۱ |

ټول داوطلبان کولای شي چې د ګډون په موخه خپله درخواستي له ۱۴۰۴ /۲/۳۱ څخه تر ۱۴۰۴/۳/۱۰ پورې د کابل ولایت د کانونو ریاست ته او د داوطلبی اړوند فورمی له یاد ریاست څخه ترلاسه کړي.

د یادی اجازه نامې فیس پنځلس زره ( ۱۵۰۰۰ ) افغانۍ او د ژوند چاپیریال سـاتنې ضـمانت یې څلویښـت زره ( ۴۰۰۰۰ ) افغانۍ او د حسن اجرا ضمانت یې د یوی ربع په اندازه دي.۱۳۵۵

## د داوطلبیو اعلان

د کابل ولایت د کانونو ریاســت په پام کي لري چې د قرار داد د عقد په موخه سـاختمانی کاني موادو لاندې ساحې د دوه کالو لپاره په قرار داد ورکړي.

| شماره | ولایت | ولسوالي | د ساحي نوم | د موادو ډول | مساحت دساحي |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ده سبز | تنګی تره خیل | سنګ تعمیراتی | ۲۲۲۱۵,۰ |

ټول داوطلبان کولای شي چې د ګډون په موخه خپله درخواستي له ۱۴۰۴ /۲/۳۱ څخه تر ۱۴۰۴/۳/۱۰ پورې د کابل ولایت د کانونو ریاست ته او د داوطلبی اړوند فورمی له یاد ریاست څخه ترلاسه کړي.

د یادی اجازه نامې فیس پنځلس زره ( ۱۵۰۰۰ ) افغانۍ او د ژوند چاپیریال سـاتنې ضـمانت یې څلویښـت زره ( ۴۰۰۰۰ ) افغانۍ او د حسن اجرا ضمانت یې د یوی ربع په اندازه دي.۱۳۳۲

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
دارېکو شمېره: ۰۲۵۲۶۳۴۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼي انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

**یکشنبه د ذوالقعدة الحرم ۲۷ مه ۱۴۴۶ ق کال** د ۱۴۰۴ ل کال د غبرګولې ۴ مه د 2025 م کال د مې 25مه


## ثور میاشت؛ هېواد کې د ۳۸ جبري نکاحو مخه نیول شوې ده




لمریز کال د غويي میاشتې په بهیر کې په ټول هېواد کې د ۳۸ جبري نکاحو مخه نیول‌ې، ۲۴ مېرمنو ته یې د میراث حق ورکړی، ۴۰ مېرمنې یې له کورني تاوتریخوالي ژغورلي، ۲۲ مېرمنو ته یې د ولور حق سپارلی او اته مېرمنې یې هم په بدو کې له ورکړې ژغورلې دي.

د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت محتسبینو په همدې موده کې، د ټولنیز عدالت د ټینګښت، د ناوړه دودونو د مخنیوي او د ټولنیزو اصلاحاتو د هڅو په دوام، د هېواد په کچه د ۱۲۰مواردو قومي شخړو او کورنیو دښمنیو د رامنځته کېدو مخه نیولې او د ناوړو دودونو، فساد او غیرشرعي... ۲مخ

د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت وایي چې دغه وزارت د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د غويي میاشتې په بهیر کې، د هېواد په کچه د ۳۸ جبري نکاحو مخه نیولې ده.

د یاد وزارت د معلوماتو له مخې؛ د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت محتسبینو، د مېرمنو د ټولو شرعي حقونو ورکړې او ساتنې ته په ژمنتیا، د روان

## د لوړو زده کړو وزیر بلخ پوهنتون کې د څو مهمو پروژو پرانیسته وکړه

د لوړو زده کړو وزیر شیخ ندا محمد ندیم بلخ ته د سفر پر مهال په بلخ پوهنتون کې د عالیقدر جوړول، د پوهنتون دننه سړکونو جوړول، د ژورو څاګانو کیندنه، د اوبو رسولو سیستم او د ښوونې




امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) له لوري د ۴۵ میلیونو افغانیو په ارزښت د څو مهمو منظورو شویو پروژو پرانیسته وکړه. یادو پروژو کې د یو جومات او روزنې پوهنځي بیا رغول شامل دي. دغه راز د لوړو زده کړو وزیر د بلخ پوهنتون د علمي شورا غړو سره په ناسته کې د یاد پوهنتون د مسئولینو... ۲مخ

روسیه:

## COP-۳۰ غونډه کې د افغان پلاوي د ګډون هڅه کوو

د روسیې د طبیعي سرچینو او چاپېریال ساتنې وزیر الکساندر کوزلوف د افغانستان د چاپېریال ساتنې ملي اداري رئیس مولوي مطیع الحق خالص سره کتنه کې ویلي: هېواد یې هڅه کوي COP-۳۰ ناسته کې د افغانستان پلاوي ته د ګډون زمینه برابره کړي. مولوي مطیع الحق خالص دې کتنه کې پر افغانستان د اقلیمي بدلون ناوړه اغېزو ته په اشاري له روسیې



غوښتي چې افغانستان سره دې د اقلیمي بدلون د مبارزې برخه کې د نړیوالو ځنډول شویو پروژو بیا پیل کې مرسته وکړي.

په ورته مهال ښاغلي کوزلوف د ځمکې لاندې اوبو کمښت، ککړه هوا او اقلیمي بدلون د افغانانو لویه ستونزه بللې او په خبره یې، روسیه به یادو برخو کې له افغانستان سره هر اړخیزه مرسته وکړي.

ټاکل شوې د ملګرو ملتونو د اقلیمي بدلون کلنۍ ناسته کاپ ۳۰ (COP۳۰) به روان میلادي کال د برازیل په کوربتوب ترسره شي.

د کډوالو د حقونو شبکه:

## پاکستان دې د افغان کډوالو جبري ستنول ودروي

که څه هم له پاکستان څخه په زور د افغان کډوالو راشړل له درولې نه ده، بلکې ورځ تر بلې یې لا پسې پراخه کړې هم ده.



نړیوالو غبرګونونو سره مخ دي، خو پاکستان نه یوازې دغه لړۍ په دې تړاو له ټولو تازه غبرګون کې د آسیا پاسیفیک د کډوالو د حقونو شبکې په پاکستان کې د افغان کډوالو ژوند او له هغوی سره ناوړه چلند خواشینوونکي بللی او له پاکستانه یې غوښتي، چې د افغان کډوالو پرضد د بې بنسټه بندیزونو او بشري حقونو سرغړونې پای ته ورسوي. دې شبکې په زور د افغان کډوالو پر اخراج هم نیوکه کړې او ویلي یې دي، چې پاکستان باید په ډله ییز ډول د افغان کډوالو د اخراج پروسه هم په سملاسي توګه ودروي... ۲مخ

## نمایشگاه ۲ روزه هنری در نگارستان ملی

نمایشگاه دو روزه هنر، ادب و فرهنگ در نگارستان ملی با حضور مسئولین امارت اسلامی، تعداد زیادی از هنرمندان، فرهنگیان وعلاقمندان هنر کشور با همکاری بنیاد فرهنگی رسیس دیروز در کابل آغاز شد. سید ریاض‌الدین رسیس رئیس بنیاد فرهنگی رسیس، ضمن سپاسگزاری از اشتراک کنندگان و همکاری مسئولین در این برنامه افزود که در این نمایشگاه هنر، ادب و فرهنگ به تعداد ۱۵۰قلم اثار هنری برای علاقه مندان فرهنگ و هنر برای دو روز به نمایش گذاشته شده است. اقای رسیس اضافه کرد که هدف ما حمایت و دستگیری هنرمندان و فرهنگیان کشور است که بخاطر بقای فرهنگ، هنر و تمدن اسلامی تلاش می کنند وهمچنان ایجاد فضای همدلی، تامین روابط و همدیگر پذیری بین همدیگر مخصوصاً بین هنرمندان و فرهنگیان می باشد.

در ادامه محمد لعل منیب رئیس نگارستان ملی در این نمایشگاه گفت: کسانی که به ارزشهای



مادی ومعنوی برای آبادی وطن و مردم ما گام میگذارند قابل قدر و سپاسگزاری اند. وی افزود: تمام مسئولین امارت اسلامی با خلوص قلب و نیت صاف برای خدمت و همکاری ... ۲خ

## غزه کې د لوږې له ګواښ سره مخ خلک؛ نړۍ یې یوازې ننداره کوي

ملګري ملتونه وایي، چې د غزې خلک د لوږې له جدي ګواښ سره مخ دي، خو نړۍ د دې حالت یوازې ننداره کوي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي، انتونیو ګوترېش ویلي: اسرائیل باید د بشردوستانه نړیوالو قوانینو درناوي وکړي او اجازه ورکړي، چې مرستې غزې ته ورسول شي.

نوموړي زیاته کړې، چې اسرائیلو په وروستي ځل یوازې ۵۰ د مرستو موټر غزې ته پرېښي، حال دا چې ۴۰۰ موټر په مرستو بار د لېږد لپاره چمتو وو. ګوترېش ټینګار کړی، چې د اشغالګر په توګه اسرائیل باید د بشر دوستانه مرستو د داخلېدو اجازه ورکړي او د اړینو مرستو د رسولو اسانتیاوې برابرې کړي. غزه کې دا مهال سلګونه زره کسان له لوږې سره مخ دي او له همدې امله بیا زرګونه ماشومان ان د مرګ له ګواښ سره مخ دي.

## د سالنګ لویې لارې د پاتې برخو د بیارغونې چارې پیل شوې

د ټولګټو چارو وزارت د سالنګونو لویې لارې د پاتې برخو د اساسي بیارغونې چارې پیل کړې دي، چې له امله یې د دې لویې لارې اصلي مسیر، د کار د ښه ترسره کېدو په (۳۰۳ ، ۴۰۴ ، ۵۸۰) وسایطو په ګډون کولي شي، چې د یادې لویې لارې له چمتو شوي بدیل( فرعي) مسیر څخه له دواړو خواوو، ۲۴ ساعته تګ او راتګ وکړي. همدارنګه ټولو بار



موخه د وسایطو د تګ او راتګ پرمخ تړل کیږي.د وزارت د خبرتیا له مخې، مسافر وړونکي وسایط د وړونکو وسایطو ته په نوبتي ډول یوه شپه له شمال څخه جنوب لوري او بله شپه له جنوب څخه... ۲مخ

## پکتیا کې د ۲ کورنیو ترمنځ روغه وشوه

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت وایي، چې د پکتیا په لجه منګل ولسوالۍ کې د دوو کورنیو تر منځ له ۴۰ کلونو شخړې وروسته روغه جوړه وشوه، دواړو خواوو یو بل وبښل او له خپلمنځي شخړو لاس په سر شول. د یاد ولایت د سرحدونو،




قومونو او قبایلو چارو د رئیس مولوي نصیر احمد تائب په مشرۍ د قومي سپین ږیرو، علماوو او د اسلامي امارت د منسوبینو په هڅو د ښکېلو کورنیو له مشرانو سره د څو ناستو په ترڅ کې هغوی سولې او بښنې ته راضي کړای شول او د یوې منصفانه پرېکړې پر بنسټ یې د دواړو تر منځ روغه جوړه وکړه. دغه شخړه چې د ځینو کلتوري مسایلو له امله رامنځته شوې وه، پکې له دواړو خواوو څلور تنه وژل شوي وو. هېره دې نه وي، چې څو ورځې مخکې هم د یاد ولایت په سید کرم ولسوالۍ کې د ۱۱۰ کلونو شخړه د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو ریاست د مسئولینو له لوري حل او فصل شوې وه.


## روسیې او اوکراین نږدې ۸۰۰ زندانیان تبادله کړي

د راپورونو پراساس، ورمه ورځ د روسیې او اوکراین ۸۰۰ نظامي او ملکي زندانیان تبادله شول.

ویل شوي، چې د دواړو لوریو ترمنځ ۳۹۰ اوکراینیان او همدومره شمېر روسي زندانیان تبادله شوي او ټاکل شوې نن یکشنبه به هم د زندانیانو تبادله دوام وکړي.

د اوکراین ولسمشر ولادیمیر زیلینسکي ویل: (( په لومړي پړاو کې ۳۹۰ اوکراینیان بېرته هیواد ته راوستل شول، چې په کې سرتیري او ملکي وګړي شامل وو، تمه کیږي، چې د اوونۍ په پای کې نور بندیان هم خوشې شي چې دا به د جګړې له ټولو لویه ... ۲مخ

## فراه کې د کرېکټ لوبغالی جوړېږي



د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ په دارستان سیمه کې د فضل احمد په نامه د یوه ملي سوداګر پر شخصي لګښت د څه باندې یو میلیونو افغانیو په لګښت د کرکټ د یوه لوبغالي د جوړېدو چارې پیل شوې. د یاد ولایت د کرېکټ بورډ آمر عبدالرازق عزیزي باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې یاد لوبغالی به پر ۱۰ جریبه ځمکه جوړ شي ... ۲مخ